پوهاندډوکتورم.ا.زيار
اکسفورډ، ۱۱-۱۱-۰۸

## د ډبرپېر وحشت بلهارو ته:

د اړواوو ننواتې
له هماغه خونړي او بوږنوړي شومه دمه
چې ځيرونکو وينې څښونکو شرمښانو،
د تيارو او تورتمونو د تورزړو ګروهمنانو ...
وينې څښلې د غرڅانو او کبليانو.
#
لا تراوسه هلته لرې،
دکنډر کنډر کورونو او کلاوو نه
وراخوا،
د سپېرو رغځيو پای ته
د تور غره پر هسکه ډډه غځېدلې
هديره کې د ميوند د شهيدانو پر قبرونو،
له تياره توره ماښامه،
د سپېڅلي سباوون تر سپېده داغه...
درسته شپه ډيوې بلېږي
تتې تتې او نيمزالې.
#
پريوځای سره راټولې څو اړواوې،
=لولنګرې نا اشناوې=
چوپه خوله ګډې پر وير او ننواتو،
ښوروي زړې جنډې
رانغکوي د تېرو هېرو اتلانو،
د ملالې او ايوب د جنګيالو پاکې اړواوې.
#
ګونډې زور يې پر هغو لېوانو برشي
او وروژغوري ترې هغه
نيم شپېللي پرې سرونه...
چې يې يوسي د سبا نارنجيستان ته،

تر هماغه ویرژړلي الینګاره
چې لاسترګې دي پر لار ورته تنې د سر پرېکړو،
=د کار زیار د رزمیالیو=
د نامرادو ارمانژلو،
د بلهارو، سور کفنو شازلمیو!!؟

**13.02.2009**

*www.ayenda.org*